DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

سال سوم شماره چهاردهم
شماره مسلسل ۹۵
سه شنبه اول دلو ۱۳۸۱ هـ ش
۱۹ ذوالقعده الحرام ۱۴۲۲ هـ ق
21 January - 2003

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
AMRC

خه ته سوچ کوې؟ دا چې همزولې دې ښوونځي ته ځي. لوبې کوي. او ته بايد په دې نازکو لاسونو څټک ووهې

په خوست کې القاعده نوې تخنیک کاروي

په تېره یوه اوونۍ کې په خوست کې پر ائتلافي ځواکونو دوه خلې درندې حملې شوې دي

برید کوونکې په لومړي خل په برید کې نوی تخنیک کارولی. تېره ورځ هوايي ډګر ته نېږدې د امریکايي عسکرو په موټر هغه چاودیدونکي مواد وچاودېدل چې په یوه بایسکل کې ځای پر ځای شوی و

د ائتلاف ویاند راچرکینګ په بګرام کې وویل چې په دغه چاودنه کې دوه عسکر ټپي شوی خو عیني شاهدان بیا د ځلورو عسکرو د ټپي کېدو خبره کوي او نا تائید شوې راپورونه د یو عسکر د مړینې خبره کوي

پرون د خوست دمتون سیمې نه نېږدې هم پر امریکايي ځواکونو حمله شوې دا حمله د کوچیانو د یوه اوبه وړونکې خره پر نیمائو کې د بارودو پر ځای کېدو څخه منحته راغله چې د زیموډ له لارې بې لارښوونه کېده.

دا دریم ځل دی چې دا حملې په سوي تخنیک سره تر سره کېږي.

آزمایش راکت در هند

هندوستان یک راکت دیگر نوع اکاش را آزمایش کرده است.

آزمایش قبلی این نوع راکت های زمین به هوا روز شنبه در ایالت اونشیا دز شرق هند انجام یافت ، وزارت دفاع هند میگوید هردو آزمایش با پیروزی صورت گرفته است ، مسافه موثر این راکت که میتواند سرگلوله پنجاه کیلو گرام را حمل کند ، بیست وپنج کیلو متر میباشد

دستگیری دوتبعه پاکستانی

دوتبعه پاکستانی را با مقدار بانکنوت های جعلی در آن ولایت دستگیر نموده اند. جنرال خیال باز شیرزی قومندان فرقه ۲۵ خوست گفته است. این دوتبعه پاکستانی بنام های ، حسین گل از باشنده گان ایالت صوبه سرحد پاکستان زمانی در ولایت خوست دستگیر گردیدند که میخواستند مبلغ سه صد وپنجاه هزار افغانی بانکنوت های جعلی افغانی را وارد بازار نمایند. مسولین مبارزه با جرایم جنائی ولایت خوست اظهار داشته اند ، آنها اقدامات لازمی را بخاطر جلوگیری . از داخل شدن نوت های جعلی افغانی به بازار اتخاذ نموده ودر تلاش اند ، تا اشخاص را که به چنین اعمال دست میزنند دستگیر وبه پنجه قانون بسپارند از زمان به چلند افتادن پول افغانی جدید ، چندتن از باشنده گان ولایت غزنی در رابطه به تبادله نوت های جعلی افغانی دستگیر گردیده بودند ، اما این بار اول است که دوتن از اتباع خارجی در این رابطه دستگیر می شوند

د امنیت شورۍ غړی سره غونډه کوي

د امنیت د شورۍ د غړیو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیران په نیویارک کې سره غونډېږي تر څو دا خبره سره وڅېړي چې د ترهګرۍ ضد جګړه څومره بریالی ده او څومره نه.

داسې بریښي چې په دغه غونډه کې به د عراق او شمالي کوریا پر اتومي پروګرامونو او وسلو هم خبرې وشي. انتظار کېږي چې دغه وزیران به د څه باندې یو کال د ترهګرۍ ضد جګړې جاج واخلي او یوه علامیه به خپره کړي چې په هغې کې له ملګرو ملتو وغواړي چې د هغو خطرناکو مواد تینګه ځارنه وکړي. چې کېدلای شي د ترهګرو لاسونو ته ورشي.

پولیسو پر یوه جومات حمله وکړه

د برتانیې پولیسو پر یوه جومات حمله کړې ویل کېږي چې په دغه جومات کې د دولت ضد ملایان وعظه کوي.

پولیس وایي چې دا حمله یې ځکه کړې چې په دې وروستیو کې د لندن په یوه مانۍ کې د رایسین زهر جن مواد موندل شوي و. د لندن په شمال کې ددغه جومات امامت د ابو حمزه المصري پر غاړه دی. دا ملا د مصر وګړي دي او د لویدیز پر ضد د تندو خبرو پر کولو مشهور دی. تر اوسه دانه ده معلومه چې الحمزه په نیول شویو کسانو کې شامل دی او که نه.

وسله پلټونکی یوه ورځ نور هم خبرې کوی

دملګرو ملتونو وسله پلټونکی او عراقی چارواکی مخکې له دې چې وسله پلټونکی دخپل کار رپوټ سباته دامنیت شورای ته وړاندې کړي د دوهمې ورځې لپاره خپلې خبرې اوږدوی. دنړۍ داتومي انرژۍ مشر محمدالبرادی او دوسله پلټونکو مشر هانس بلیکس ویلې چې په لومړی پراوخبروکې یوځه پرمختګ شوی اوکیدای شی عراق له وسله پلټونکو سره نوره همکاری هم وکړی. محمد البرادی زیاته کړه چې وخت له لاسه وځی اوعراق باید له وسله پلټونکو سره زیاته همکاری سمد لاسه شروع کړی.

دلوی او بښونکی خدای په نامه
سرمقاله

د هېواد لرغونو آثارو ته ځانګړې پاملرنه ورځ تر بلې اړینه ګڼل کېږي

زمونږ هېواد ګران افغانستان دلرغونو تمدنونو د زانګو په توګه د لرغونو تاریخي آثارو د درلودلو له امله په نړۍ کې خانګړی شهرت لري او زمونږ د هېواد هره سیمه دیوه خانګړي تمدن ښکارندویه ده. دغه لرغوني آثار زمونږ د تاریخ او فرهنګ په معرفي کولو کې له خانګړي اهمیت څخه برخمن دي. له بودایي تمدن نه رانیولې د یونانیانو تر تمدن پورې او بیا له هغه وخته د اسلام د مقدس دین تر راتګه پورې هر تاریخي او لرغونی اثر خپل تاریخي ارزښت ساتلی او په نړیواله سطحه د لرغون پیژندونکو درناملرنې وړ ګرځیدلی دی .

زمونږ ملي موزیم او د هېواد په کوټ. کوټ کې نور سیمه ییز موزیمونه زمونږ ددې ادعا ډېر ښه او غوره ثبوتونه دي. خو له بده مرغه اوس زمونږ دغه ملي شتمني د خپنو بهرنیو او کورنیو عواملو له امله تقریبا له منځه تللې او د نړۍ کوټ کوټ ته په فاچاق وړل شوي ده. اوس به د نړۍ پر مخ داسې لږ هېوادونه وي چې زمونږ د موزیمونو تاریخي او لرغوني آثار به یې مارکیټونو ته نه وي رسېدلي

که څه هم اوس د ملي موزیمونو د بیا احیا لپاره په ملي او دولتي سطحه هلې خلې روانې دي. خو که دغه هلې خلې ګړندی او هماهنګې نه شي ددې ویره شته چې تر ځمکې لاندې او د ځمکې پر مخ زمونږ نور خواره واره تاریخي آثار به د شخصي لاس وهنو او تښتاسو له امله هم له هېواد څخه ووېستل شي چې بیا به ددې آثارو تر لاسه کول هم زمونږ له وس څخه وتلې خبره وي او یا به په ډېر لوړ قیمت دهغو بیا راغونډول راته تمام شي.

ددې لپاره چې موږ وکړای شو خپله دغه ملي شتمني هغه شان وساتو لکه څنګه چې لازمه ده. نو په ملي سطحه داسې هلو ځلو ته ضرورت دی چې دهغو په نتیجه کې ددغو تاریخي آثارو دله منځه تللو لاره ونیسو. دا د هر افغان وظیفه ده چې په دې اړه خپل مسئولیت وپیژني. په هره سیمه او هر ځای کې چې دغه شان خپلسري کیندنې او لاس وهنې کېږي یا خو یې پخپله مخه ونیسي او یا مسئول چارواکي پرې خبر کړي ځکه دا د یوه یا څو کسانو ملکیت نه بلکې د ټول ملت ملي سرمایه ده او د ملي سرمایې په ساتلو کې هر افغان مسئولیت لري

موږ باور لرو چې تر دې وروسته به زمونږ دغه ملي شتمني په ملي او دولتي سطحه وساتله شي او چانه به ددې اجازه ورنه کړي چې د خپلې شخصي ګټې په خاطر ملي شتمنی ته زیان ورسوي او هغه په خپله تا چیزه شخصي ګټه په کار واچوي چې البته دا یو ملي مسئولیت دی او په دې ملی مسئولیت کې ټول افغانان شریک دی.

نا بلدی میلمانه

۲ - مخ

سنګ

ص ۳

پاچا خان امتیاز میدهد یا میگیرد

ص - ۴

موهن لال و افغانها ...

ص - ۴

د القاعدې سمندري ځواک نړیوال امنیت ته خطر دی

د القاعدې نیول شویو غړیو دا په ډاګه کړې چې ددې ډلې سمندري ځواک کېدلای شي نړیوال امنیت او سولې ته غټ ګواښونه پیښ کړي.

د News Week مجلې لیکي چې د القاعدې وتلي غړي عبدالرحیم النشری C.I.A ته ویلي چې القاعدې پر سمندر کې حملو ته ځلور ډوله ستراتیژي جوړه کړې ده چې یوه حمله یې پر جبل الطارق ابنا باندې ده او دا حمله به پر امریکا یې بیړیو باندې وي یا به له چتکو وړو بیړیو کار واخلي او یا به تر اوبو لاندې پر باروتو بار بیړۍ ددې حملې لپاره وکاروي.

News Week لیکي چې عبدالرحیم په ۲۰۰۰ میلادي کې د عدن په بندر کې پر امریکایي بیړۍ د برید پلان جوړ کړې و او همدارنګه یې د تېر کال په وروستیو کې د یمن د ساحل سره نیږدې د فرانسې پر تیل وړونکې بیړۍ د برید نقشه جوړه کړې وه.

په هیواد کې بشري حقوقو ته هېڅ کار کول په کار دي

د ارادې ورځپاڼې په دغه ګڼه کې د افغانستان د بشري حقوقو د کمیسیون له مشر لعل ګل سره مرکه کړې چې ستاسې مخې ته يې پرېږدو.

خبریال: ستاسې فعالیتونه له کوم وخت را هیسې په کابل کې پیل شوي؟

لعل ګل صاحب: زموږ فعالیتونه تر تولو د مخه په پاکستان کې د هجرت په دیار کې پیل شوي، څلور، پنځه کاله موږ هلته په سختو شېبو کې کار کړی دی. او پنځه میاشتې کېږي چې زموږ دفتر کابل ته را انتقال شوی او دلته مو په فعالیت شروع کړي ده او یوه خانګه مو په پېښور کې فعالیت لري.

خبریال: تاسې په تېرو پنځو کلونو کې چې پېښور کې فعالیت درلود تاسې کوم د پام وړ کارونه ترسره کړي دي.

لعل ګل: د بشري حقوقو د کمیسیون کارونه واضیح دي خو موږ چې کوم کارونه کړي او هغه مهم کارونه دي باید زه يې په ګوته کړم، اول دا چې افغانان له تېرو درویشت کلونو راهیسې په پاکستان کې ژوند کوي دوی هلته ډېرې قانوني ستونزې لري. ددغو ستونزو له جملې یوه هم داده چې هلته یو زیات شمېر افغانان د پاکستان په زندانونو کې زندانیان دي، زموږ اورګان اولنی اورګان و چې د پاکستان زندانونو ته د ننه شو او د افغاني زندانیان حال، احوال يې له زندانونو څخه راویستلو او پاکستان، د افغانستان د وخت حکومت او ملګرو ملتونو ته يې په دې اړه راپورونه ورکړل. چې اوس د همغه راپورونو په اساس په پاکستان کې د ملګروملتونو له خوا د پېښور، اسلام آباد په ښارونو کې داسې دفترونه پرانیستل شوي چې له افغانانو سره مفت تعاون کوي. همدارنګه موږ د امریکا د بریدونو پر وخت چې کله يې د طالبانو د له منځه وړلو لپاره شروع کړل. موږ له هغو زخمیانو سره او له هغو کډوالو سره چې ددغه بریدونو له ویرې پاکستان ته راکډه شو، له هغوی سره مو زیاته اندازه مرسته کړې. په امریکایې بریدونو کې د تېپې شویو بې ګناه افغانانو چې د پاکستان په روغتونونو کې داخل و دهغو بشپړه سروې مو کړې ده. او له هغو سره مو د نورو ضرورتو په اړه هم لکه، وینه، درمل او د کرایې مرسته مو ورسره کړې ده. او بل موږ د بشر د حقوقو دا ګاهی پرګرامونه لکه په ټولنه کې یا په هغو ادارو کې چې له عوامو سره يې رابطه وي د دوي لپاره مو د اګاهی پرګرامونه پر مخ بیولي، په دې هکله مو سمیناروته او ورکشاپونه دایر کړي.

خبریال: ایا تاسې ویلای شی چې څومره افغانان د پنجاب، بلوچستان، صوبه سرحد او سند په زندانونو کې زندانیان دي؟

لعل ګل صاحب: موږ چې د زندانونو په اړه کومه سروې کړې هغه یوه ساده سروې وه او یوه بشپړه سروې کافی امکاناتو ته اړتیا لري خو زموږ د سروې له مخې تقریباً د شپږو څخه تر اووه زرو افغانان د پاکستان په زندانونو کې زندانیان دي.

خبریال: تاسو چې اوس دلته کابل ته تشریف راوړی او خپل دفتر مو پرانیستی اوس دلته څه کارونه کوی؟

لعل ګل صاحب: اصلاً د بشری حقوقو لپاره کافي کار کول پکار دي. دا څکه چې له پخوانه په افغانستان کې د هرې ځانګې لپاره کار شوی خو د بشري حقوقو لپاره نه د نړیوالې ټولنې له خوا. او نه د افغاني ټولنې له خوا کوم ګړندي ګامونه، نه دي اوچت شوي. خو اوس په افغانستان کې د بشری حقوقو نظارت کوو، او په دې برخه کې موږ د مختلیفو ولایاتو څخه په خانګړې ډول د کابل په ښار چې کومه بشري واقعه رامنځته کېږي په هغې باندې د بشر دحقوقو اسناد جوړو. او هغه ترتیبوو او ملګرو ملتونو، حکومت او نورو مربوطه ادارو ته يې لېږو.

خبریال: تاسې تر اوسه په دغو پنځو میاشتو کې څو کیسه یا واقعې مو څېړلې دي؟

لعل ګل صاحب: موږ سره په دې اړه زیات راپورونه شته چې په خانګړې ډول د کابل پوهنتون د محصلینو د وژلو واقعه ده چې یوه ډېره ستره دردونکي واقعه وه موږ په دې اړه کار او څېړنې کړي دي. او له دې سره مو په څنګ کې دهغو ماشومانو چې د کمونیستانو په وخت کې شوروي اتحاد ته لېږل شوی و او دهغوی اوس هلته ډېر بد حالت دی. موږ ته چې څومره معلومات دي یا د دوی پیغامونه راځي او یا دوی په خپله دلته راغلي دي او دوی له ډېرو مشکلاتو سره مخ دي. موږ په دې اړه څېړنه پیل کړې ده. او په دې اړه راپور به انشاالله په نیږدې راتلونکې کې بشپړ شي او بیا به يې هېواد کې چې ۲۴ کاله جنګ شوی وي تاسې د کومو حقوقو په اړه خلکو ته اګاهي ورکوي؟

لعل ګل صاحب: موږ په دې اړه ډېر کار کړی دی. او له دې سره مو د ټولو هغو کسانو چې د ملګرو ملتو اداره دا مسئولیت لري چې په دغه محکمه کې عادلو او دریم ګړو افغانانو ته استازیتوب ورکړي.

خبریال: تاسې مخکې وویل چې موږ کنفرانسونه، ورکشاپونه چې خلکو ته اګاهی ورکړي او د بشری حقوقو په اړه خلك خبر کړي ستاسې په نظر په داسې یو هېواد کې چې ۲۴ کاله جنګ شوی وي تاسې د کومو حقوقو په اړه خلکو ته اګاهي ورکوي؟

لعل ګل صاحب: باید زه ووایم چې اول په افغانستان کې د بشر تثبیت ضروری دی د انسان تعریف باید وشي کله چې انسان تثبیت شی، انساني کرامت وپیژندل شي متقابل احترام وپیژندل شي دهغې نه وروسته بیا دهغو د نورو حقوقو غوښتنه کیدای شي.

خبریال: تر اوسه څومره د بشری حقوقو کمیسیونونه په افغانستان یا کابل کې کار کوي؟

لعل ګل صاحب: یو زموږ د افغانستان د بشری حقوقو کمیسیون دي او بل د ملګروملتونو او موجوده دولت ګډ د بشري حقوقو کمیسیون دي بل د چاپېریال او بشری حقوقو کمیسیون دي او یو بل کمیسیون چې مخکې يې یوه موده کار وکړ خو بیا يې کارونه په ټپه دریدلي و چې د افغانستان د بشري حقوقو ملي کمیسیون دی. دوی هم اوس راغلي او کار يې شروع کړی دی.

خبریال: تاسې پوهېږی چې دلته په کابل کې سوله ساتی ځواک وجود لري نړیوال ټول په کابل کې راټول شوي خو په ولایتونو کې ډېر خلك پر بشري حقوقو پښې ږدي او له بشری حقوقو سر غړونې کېږي که دا کسان په ولایاتو کې وپیژندل شي او محاکمه شي او خلکو او نړیوالو ته معرفی شي دا به ښه کار وی که څنګه؟

لعل ګل صاحب: دا ډېره ښه خبره ده موږ کوښښ کوو تر څو هغه امکانات په لاس راوړو چې په ولایاتو کې نمایندګی خلاصې کړو. په خپلو ولایتونو کې مو خپلې نمایندګی خلاصې کړې دي خو زه وایم چې په افغانستان کې د بشری حقوقو سرغړونو هیڅ اسناد نه شته دا د هر افغان او بیا د اهل نظر افغان دنده ده چې چیرته د بشری حقوقو خلاف ورزي کېږي نو باید موږ ته لیکلې راپور راکړي تر څو له موږ سره اسناد جوړ شي او جمع يې کړو. Human Rights Documentation ډېر مهم دی تر اوسه دا په افغانستان کې نشته او باید تو جه ورته وشي که په ماضي کې دا اسناد لکه څنګه چې تا د کابل د ورانیو او وژنو خبره وکړه موجود وای نو دا به ډېر کافي اسناد وو.

خبریال: که چیرې څوک تاسې ته دا اسناد درکړي تاسې به وربانډی څه وکړی؟

لعل ګل صاحب: موږ که په دې اسنادو کوم عملي کار نه شو کولای خو دا اسناد ساتلای شو او ملګري ملتونو او نورو نړیوالو سازمانونو ته يې وړاندې کولای شو.

خبریال: ستاسې نه منه کوم چې د ارادې ورځپاڼې دفتر ته مو تشریف راوړ.

لعل ګل صاحب: ستاسې څخه هم یوه نړی منه.

رومبان

دا ژبه ویاړنو څخه دی ویاړ ش

په هیواد کی د کورنیو جګړو په جریان کی ډیری نښتی، شخړی او جګړی له دی څخه را پیدا کیدی چی یوی ډلی به د بلی ډلی په قلمرو او ساحی، د نفوذ باندی تیری وکړ او یا به يې غوښتل چی خپله د نفوذ ساحه پراخه کړی او د بلی ډلی یا ګروپ سیمی خان ته غصب او لاندی کړی.

هغه وخت دغه کار د څو لاملونو له کبله تر سره کیده، یوه خبره دا وه چی هغی ډلی چی به ډېره ساحه او سیمه پخپله قبضه کی درلوده نو هغه به بیا د نورو ډلو او ګروپونو په منځ کی مطرحه ډله وه او د نورو نه به يې یوه ولیښت شمله جګه پریښوده او له بلی خوا د ډېرو سیمو لاندی کول او په قبضه کی لرل د اقتصادی پلوه ورته ډېره سودمنه او ګټوره ټامیده.

د موقتی اداری د ایجاد او بیا وروسته د انتقالی اسلامی اداری د جوړیدو څخه وروسته ددی سره، سره چی د دولتی لوړ پوړو کرسیو او همدا راز په سیمه ایزه کچه د واکداری ویش هم تر ډېره حده په پورتنی معیار او کچ ولاړ وو، خو د انتقالی اسلامی اداری اولسمشر له لومړنیو شیبو څخه دا په ګوته کړه او ډانګ پیلی يې وویل چی ملوك الطوایفی او سیمه ییزی خپلواکی به پای ته رسوی. او اولس به د توپك او توپك سالارانو څخه ژغوری، چی بیا وروسته تولو دولتی لوړ پوړو چارواکو په خپلو ویناوو کی دا خبره تکراروله، هان تردی چی ښاغلی اولسمشر خو یوځل ددی وعدی د ترسره کولو لپاره میعاد او وخت هم وټاکه او دایي هم په ژغرده وویل. که دی، په دی و نتوانید چی، دا کار تر سره کړی، نو دیته چمتو دی، چی استعفاء وکړی.

زمونږ د لیکنې موخه دانه ده چی مشرانو ته د اولس په وړاندی وعده ور په یاد کړو، اویا ووایو چی څه مو چی ویلی هغسی وکړی. خکه په اوسنیو حالاتو کی د هغه څه کول چی دوی پخپلو چارو کی د پاتی راتلو په صورت کی يې د هغی قول او قرار کړی و، د اولس او وطن په ګټه نه ګڼو، خو ددی ترڅنګه د کړو وعدو نه تر سره کول او د مصلحتونو په بناء د خلکو غوښتنو ته د پاملرنی نه کول، او اولس او خلك د سیمه ییزو خپلواکو واکدارانو په منګلو او قبضه کی پرېښودل هم د خپل خوار او بیوزلی اولس چی هره ورځ د مجبوریتونو، تکالیفو او زورونو له کبله په بیلابیلو ولایتونو کی د ملګرو ملتونو د دفترونو دروازو ته ولاړ وی په ګټه نه بولو.

د هیواد د ډېرو نورو سیمو په څیر یوه هم د بامیانو ولایت د کهمرد ولسوالی ده، چی د کلونو. کلونو راهیسی يې خلك د توپکمارو په قبضه کی ګیر دی. خو هغه څه چی د دوی ستونزه يې لاپسی ډېره کړی، هغه د بلخ د ولایت لخوا هلته د یوه پوخی هیاءت ورتګ دی، چی دا هیات نه د دفاع د وزارت اونه هم د بامیانو د ولایت په تفاهم او مشوره هغی سیمی ته تللی دی. بهرنی خبری رسنیو د بامیانو د والی او یوه پوځی چارواکی له خولی په څه ریپوتونه خپاره کړل. دوی دغی سیمی ته تللی هیات نابللی میلمانه وبلل او ډاګیزه يې کړه چی د دوی راتګ زمونږ سیمی ته زمونږ په سیمه ییزو چارو کی ښکاره لاسوهنه ده او موږ به دا ونه زغمو.

د چارواکو دا خبره چی کهمرد يې خپله سیمه بللی هم دومره دقیقه او ثقه خبره نه ده، ځکه ددغی ولسوالی خلك اوس هم د توپکمارو په منګلو کی راګیر دی او په هغه ولسوالی که همدا اوس دولتی اداری او دفترونه فعاله نه دی او دغه ولسوالی د سیمه ییزو خپلواکو قوماندانو لخوا کنترول او اداره کیږی، چی د بامیانو په مرکز کی د ملګرو ملتونو دفتر ته ددغی ولسوالی د استازو ورتګ ددی لپاره چی هغوی دی ددغی ولسوالی خلك د توپك سالارانو له منګلو څخه خلاص کړی زمونږ د وینا تصدیق کوی.

پخپل سر د بلخ د ولایت څخه د کهمرد ولسوالی ته د پوځی هیات تلل که د دوی موخه هر څه وی، بی وسلی کول او یا د وسلو راجستر په دواړو حالاتو کی، کیدای شی بدی پایلی ولری او خدای مکړه یو ځل بیا هغه حالت چی څو کاله مخکی زمونږ هیوادوال ورسره مخامخ شوی وو او له ورته پیښو له کبله په زرهاو بی ګناه خلك شهیدان او په زرهاو نور جبراً د خپلو کورونو پریښودو ته مجبور شوی وو، تکرار نشی او د چارواکو او مسولینو د بی توجهی او نه پاملرنی له کبله هیواد بیایوی کورنی او خپلمنځی جګړی ته سوق نشی.

په داسی حال کی چی د دولت د مشرتابه پام دی خبری ته اړوو هیله من یو، چی د غسی تحریك کوونکی حرکات ژرترژره مهار او کنترول شی، تر څو ورته شان حرکات نورو سیمو ته ونه غړېږی او خدای مکړه یو ځل بیا هیواد او هیوادوال د خپلمنځی جګړو په اور کی ونه سوځېږی.

زوندیه هنرکی



سرنگ

تازه سپیده های صبحگاهی سر زده بود و او در کناره جویی در حال وضو کردن بود . بعد انسوتر روی چمنزاری به نماز ایستاد و در حال سجده کردن بود که مرغ کوهی با چنگالش اورا برداشت و برد باخودش در اوج ها و از انجا از ان بالای بالاهار هایش کرد .

شاخهٔ گل در مسیر نسیم صبگاهی گژ و مژ گردیده ، رقصان و چرخان آهسته آهسته فرو می امد واو می انگاشت که ستاره های نقره گون ، دردل آسمان لاجور دین به سویش چشمک می زنند و اورا به سوی خود می خوانند . شاخهٔ گل می خواست مسیرش را بدانسو برگرداند ولی جاذبه یی اورا به سوی پایان می کشاند . درین کش ومکش او حس می کرد که درمیان انبوهی از شاخه های نور در پیچ و تاب است . درین پیچ و تاپ چیزهای شگفتی امیز فراوان

در فضای نیلی رنگ بیکران در میان امواج رنگارنگ نور ، در تلاش و تقلای رهایی .

درین تلاش و تقلا ، هر گاهی ، رو به پایین می آید

به نظرش می امد ، از همان چیزهای شرح ناشدنی و او درین حالت در می یافت که خودش لحظه به لحظه دگرگون میشود و دراین دگرگونیها دنیایی از شگفتیها جلوه نمای میکنند . در ین جلوه ها خودش را می یافت که گاهی در چمنزاری در حال نماز است و گاهی چون شاخه گلی درحالت پرواز و گاهی در چنگال مرغ کوهی و می آید تا که بر قله کوهی روی تخته سنگی جا به جا می گردد و با شگفتی در می یابد که به گونهٔ یک کلوله سنگی می باشد که از تمام وجودش نورهای گوناگون پرتو افشانی می کند .

به پیرامونش نظر می افگند ، شگفتی زده می شود و این شگفتی از ان است که نگاه هایش از ان قله تابیکرانه ها راه میکشد . کوهها ، جنگلها ، مزرعه ها ودریاهای گوناگون به نظرش جلوه گرمی شوند و این جلوه ها اورا از خود بیخود می نماید . همه چیز غرق در گلهای رنگارنگ هستند ، کوههای گل ، جنگلهای گل ، مزرعه های گل ، دریاهای گل و هر انچه به نظر او آید پوشیده اند از گل های گونا گون شگفتی آمیز تر اینکه بر هر برگی گل دانهٔ شبنمی می در خشد و از هردانه شبنم نوری به رنگی برمی خیزد .

رسد گلها انکار با حرکتهای رقص گونه به پرواز می ایند و نرم نرمک به سوی بالا به سوی آسمان ابی رنگ در چرخش می شوند و او می انگارد که همه چیز بدانسو به سوی آن گنبد فیروزه یی در حرکت هستند و ناگهان در می یابد که خود نیز به گونه یک شاخه که چندین شگوفه خوشبو و خوشرنگ درخشان گل در خود دارد ، همراه و همگام با نغمه موسیقی در حالت رقص به سوی بالا ، به سوی ان فضای روشن نیلگون در چرخش است ...

پرنده ها

شاخه های نیمه سوخته درخت پیر مملو از پرنده ها بود .هر یک از پرنده ها می کوشیدند که به خاطر فرار از گرمادر سایه برگی پناه گیرند ولی برگی را نمی یافتند . هر یک روی شاخه نیمه سوخته پا به پا می شد ودر کنار همدیگر به سختی جوق می گردید . گاهی پرنده یی می پرید تا اگر در مزرعه گاه سایه نی ودانه یی بیابد مگر لختی بعد مایوسانه بر می گشت .

سر انجام پس از چیق چیق زیاد همه باهم به سویی پرواز نمودند .

گرمای نیم روز تابستانی طاقت فرسا بود و پرنده های تشنه و گرسنه به سختی بال می زدند . ناگزیر روی درختان نیمه سوخته که یگان دانه برگ سبزی به شاخه ها نمودار می بود پایان شدند . هریکی تلاش می کرد تا ساقه های برگهای سبز را بی مکد و یا در سایه اش پناه گیرد . دقیقه هایی بدینگون سپری شد و ناگهان همه پرندگان به پرواز امدند . بالای سر درختان بی برگ و بارودر فضای پیرامون آنها چرخیدند و چر خیدند .

سپس جوقه جوقه فرو امده به شاخه های بی برگ و بار درختان نیمه سوخته و نیمه برهنه جا گرفتند . ناگهان شیونی اغاز شد و هریک از پرندگان گریه سر دادند . می گریستند و به اواز بلند می گریستند و با هم یک جا با نوای موزون ناله وفغان می کردند . اشکهای شان جاری شد و دانه های اشک قطره قطره به زمین سوخته و تشنه می چکید .

با شگفتی که چکیده های اشک مرغکان رنج دیده ، گویای سحر امیزی از گذشته می شد و به هر جایی که این اشکها می ریخت در انجا سبزه یی می رویید ، گلی سر می زد ، درختی پر برگ و باری نمودار می گردید . جوی ابی جریان می یافت مزرعه پر حاصلی به وجود می امد و باغی با میوه های گوناگون در جلوه نمایی می شد .

بهار

نهال روح گلهای زمانه
سخنها داشت از باغ شکوفه
به باغستان نوید تازه یی بود
که می اید طربها و ترانه
زدنیای کرختی و خنکها
دوباره سر زند گلهای تازه
به هر سو بنگریم شورونوایی
زهر سو بشنویم چنگ و چغانه
دوباره زندگی یابد طراوت
درین باشد بسی راز زمانه
زمانه در طبیعت درس و پند است
به هر فصلی بود صدها نشانه
بیازین درس وزین رمز و فسانه
بیا موزیم و باشیم شادمانه ء

غزل

صادق "سپین غر"

د خیال پردې مې په والله یو غنم رنګ اړوي
د بوډی تال مې شو غزل څو رنګه، رنګ اړوي
زاهده راشه که دې وس وي نو ملګری مې شه
د زړه دنیا مې د مطرب د رباب ترنګ اړوي
ددې مالداره کلي څومره بد دستور دی خدایه
پاس له بلی خاورې ایرې په خوار ملنګ اړوي
زموږ زلمي به پس له دې تنده په څه ماتوي
چا راته ووې څوک راغلی دي او بنګ اړوي
سپین غره راشه زر سندرې له دې ښکلی ځار کړه
په سپینو لیچو کې چې شنه بنګړې په شرنګ اړوي

شوق نیاز

از علفهای تن آن گل بدن
عطر سنبلهای زلفش میچکید
در نهال شاخه پستان او
غنچه های نورس اندر جلوه ها
رشته ء زلفان عطر امیز او
بوسه میزد بر لبان غنچه ها
میگذشت از باغ سیب سینه اش
میرسید اندر چمنزار تنش
در نگاه عشق سوزان طلب
میشگفت اندر چمن شوق نیاز
در سر انجامی تب و تاب نیاز
چتر یک گل باز شد در آن چمن

شعر او موسیقی

شعر او موسیقی د انساني خلاقیت له دوه مهمو شاهکاریو څخه دي. شعر د انسان ذهن ته وده ورکوي او ویده ولسونه راویښوي. لکه حضرت محمد(ص) چې فرمایلی "خپلو بچیانو ته شعر ورزده کړي. خکه چې شعر يې ذهن پراخوي او زړه ورتیا وربښي."

شعر دی چې خلکو ته د الفاظو په رنګینه مرغلرو کې د بشری تولنې ریښتایني او انساني ارزوګانی په راز او رمز کې وړاندې کوي او د بشري تمدن کاروان تحرک وربښی او انسان خپلو هیلو ته رسوی "ویکتورهوګو" په دې باب وایي: "ادبیات د تمدن او شعر د هیلو پټ راز دی" "کانټ" خو شعر د بشر ښوونکی او شاعری ډېر نور هنر بولي او وایي: "ریښتینی شاعر د بشرښوونکی دی. شاعري اوچت هنردي."

نو ځرګنده شوه چې انسانی تولنه د شعر او ادبیاتو په واسطه پر مختللی شي او هغه تولنه کې چې بشری واقعیتونه نه شي بیا نیدلای پر مخ نه شی تلای.

همدا راز موسیقی په انسان او آن په نباتاتو او حیواناتو زیاته اغیزه لري او روح خوشحالوي او وده ورکوي او ژوند په خوښلنویې پوهوي هماغه د افلاطون خبره چې "د انسان په ارواح کې د موسیقی وزن او نغمه لوي اغیز لري او که سم وکارول شي د ښکلا مانا ورپیژندلای شي." چې اوسنیو پوهانو هم د موسیقی اغیز په حیواناتو او نباتاتو تجربه کړی او داسي ثابته کړیده هغه حیوان او نبات چې موسیقی اوري ژر وده کوي. شعر او موسیقی یو د بل سره دوه اړوند هنرونه دي چې د "شیلی" په وینا: "شعر ویده ارواح راویښوي او فکر ریښتیا پیژندلو ته چمتو کوي." چې یو له بل سره ترلی او انسانی فکر ته وده ورکوي.

"د. خ"

تصویر

نور مې په ذهن کې څه نه انځوریدل یوازې همدا یو تصویرو. داسې تصویر چې ثاني یې هم په نظر نه راتلو او د هېریدو هم نه و. که څه هم چې په بیدیا کې یوازې وم او په هر ډول ګلونو مې نظر پریوت خو بیا هم همدایو تصویر مې په ذهن کې انځوریده. څه مې کړي وایي: د خلاصون لار مې نه لرله خو د پیوستون په لار کې مې هم خندونه پراته و. نه! هوډ مې غښتلی و. او خپله تګ لاره راته بریښنه بریښیده. تکل مې درلوده چې له انځور شوي تصویر سره باید خبرې وکړم او دهغه تصویر سرې شونډې وسپړم او په خبرو یې راولم خو جوړ شوي تصویر د خبرو کولو اراده نه درلوده او خان یې را څخه څنګ. څنګ نه کاوه خو د بل چاله ویرې. هوا په زړونو کې سره پوهېدو چې زما او د انځور شوي تصویر موخه یوه ده. دواړه غوښتل چې باید ټاکل شوی منزل ته خانونه په بیړې سره ورسوو او خپل ګامونه ګړندي کړو. خو اغزنو لارو د تلو اجازه نه راکوله او زموږ دلیدو تلوسه یې کمولە.

"محمدحکیم "بشارت"

پاچاخان امتیاز میدهد یا میگیرد

و اینک یکبار دیگر پاچا خان مُحدران مطرح میشود. پاچا خان کسی است که از اثر مخالفت و برخورد های مسلحانه با اداره انتقالی اسلامی افغانستان لقب باغی یافته و به ادعای والی صاحب خوست جناب حکیم تنیوال از آن ولایت پس ازدرگیری های نه چندان شدیدی عقب زده شده است پاچاخان مطرح می شود و با همان شرایطش یعنی کل اختیاری لویه پکتیا، و در دست داشتن حاکمیت ولایات خوست، پکتیا و پکتیکا.

وی مصمم است که بکابل می رود و به معضلات موجوده از طریق جرگه و مفاهمه نکته • پایانی میگذارد و این در حالیست که تا هنوز پس از درگیری های مسلحانه با نیروهای دولتی او با اداره انتقالی اسلامی تحت ریاست آقای حامد کرزی هر گونه روابطش را منقطع اعلان نموده و آنرا به رسمیت نمی شناسد و اداره آقای کرزی هم او را یاغی و باغی و قاتل

مردم بیگناه خوانده مجازاتش را واجب میداند به گزارش نیویارک تایمز پاچا خان هنوز در ولایت خوست حضور دارد و کماکان نیرو و اسلحه ای که بتواند از خودش دفاع کند و یا در صورت ضرورت دست به تعرض بزند را باخود دارد. روزنامه از تانک کهنه روسی که پاچا خان از بالای آن به مخالفتش با اداره انتقالی اسلامی افغانستان تاکید می کند و امتیاز می خواهد یاد آور شده می افزاید که چندین میل توپ

نیز در خدمت وی آماده آتش اند

روزنامه تلاش های آشتی جویانه و صلح طلبانه نیرو های امریکایی، را عنوان می کند و از قول قوماندان نیروهای امریکایي در میدان هوایی بگرام می نویسد که نیروهای امریکایی می خواهند و تصمیم دارند تا میان آقایان حامد کرزی و پاچاخان محدران صلح نمایند. این اظهارات اگر از سوی بیطرفی نیروهای امریکایی را در مخالفت ها و درگیری های ذات البینی افغانها به نمایش میگذارد از سوی دیگر پرده از روی روابط دوستانه و امداد گرانه نیرو های امریکایی با قوماندان ناراض، مخالف، سرکش، زورگو، نا فرمان و حتی دشمن با حاکمیت مرکزی که مقامات بلند پایه دولتی وحکومتی ایالات متحده امریکا به شمول رئیس جمهور آنکشور آقای بوش همکاری های همه جانبه شانرا با آن اعلام و ابراز داشته و تا سرحدی به پیش می روند که سقوط حکومت افغانستان به رهبری اقای کرزی را سقوط خود و کشور شان قلمداد می کنند. بر میدارد و بر آن گزارشات صحه میگذارد که نیرو ها و رهبران مخالف، رقیب و بی پروا و بی تفاوت در برابر اوامر مرکز اکثراً توسط نیروها شامل ائتلاف به رهبری امریکا حمایت و اکمال می شوند.

در بعد دیگر این اظهارات و اماده گی های نیروهای نظامی امریکا در افغانستان در جنب اظهارات والیان خود مختار عده یی از ولایت کشور بعد از شرکت در جلسات کابل از تغییر سیاست و طرزالعمل اداره انتقالی اسلامی افغانستان و همچنان حامیان بین المللی آن گواهی میدهد.

بهر صورت تفاهم و رفع کدورت ها در هر سطح و هر مقداری که باشد مورد تائید ملت افغان و قشر روشنفکر و راهیان راه دموکراسی و هوا خواهان نظام مردم سالاری خواهد بود اما آنچه در این مختصر بخاطر داشته آید، بکار، خدمت مسوولین امور عرض میداریم اینست که چرا کاری کند عاقل که بار آرد پشیمانی صلاح الدین

نامه ع وارده

بارها خبرهای را از طریق وسایل ارتباط همگانی شنیده ایم که مثلاً وزیر صاحب اطلاعات و کلتور از فلان جای که آثار باستانی کشف شده دیدن نمودند و یا وزیر صاحب در قسمت ترمیم فلان منطقه باستانی که قدامت دارد برای مسوولین هدایت دادند طور مثال برای احداث دوباره طاق ظفر در پغمان، جاده میوند و یا آرامگاه تیمور شاه و یا خریداری اثار و نسخ خطی به نظر بنده تمام این کارها خوب و عالیست باوجودیکه کشور به بازسازی جدی نیازو ضرورت دارد.

ولی برای جناب محترم وزیر صاحب اطلاعات و کلتور میخواهم عرض نمایم اینکه درست است که ما افغانها تاریخ پنج هزار ساله و فرهنگ غنی داریم. آیا ضرورت مبرم کشور ما اینست تا پول های گزاف و مبالغ هنگفت بخاطر اعمار و آبادی مقبره ها و آبده ها به مصرف برسد، آیا نمیشود این پول های گزاف را بخاطر بهبود زندگی ژورنالیستان و قلم بدستان به مصرف رسانید. کسانیکه شب و روز زحمت کشیده و تحصیل نموده اند و حالا با وجودشرایط بسیار بد اقتصادی، شب و روز کارو زحمت می کشند و برای هموطنان خود خدمت مینماید. بنده منحیث یکی از ژورنالیستان و کارمندان رادیو تلویزیون نظر به قانون مطبوعات بخود حق داده و از محترم وزیر صاحب می پرسیم اینکه هفته دو و یا سه خبر و گزارشات و راپورتاژ های در مورد باز دید شما از ولایت مختلف کشور بخصوص ولایات پروان، کاپیسا و غیره زیب پرده تلویزیون است.

با وجودیکه نظر به فرموده خود شما از شروع حکومت موقت تا فی الحال کسانیکه شب وقتی از وظیفه رخصت میشوند موتر و وسیله وجود ندارد که آنها راتا خانه برساند، آیا امکان ندارد در رفع این نقیصه توجه مبذول دارید؟ بنام اضافه کاری و یا ماکول و یا سایر امتیازات وقف کنید. اضافه کاری که وجود ندارد و پول ماکول اهم قسمي است که سهمیه ماکول سه نفر بالای ۳۰ نفر تقسیم میشود که بگفته مردم عوام ما از گا وغدود هم نمیرسد. همچنان در قسمت اینکه همین مایان هستیم که خبرهای اعمار سرپناه برای کارمندان دولت مثلا کارمندان وزارت معارف، داخله، صنایع خفیفه و مواد غذای و غیره و غیره که اینهم در اثر کار و کوشش و زیر همان وزارت میسر میشود. به نشر می سپاریم آیا نمیشود شما نیز از کشورهای کمک دهنده در چنین مورد برای اعمار سرپناه برای کارمندان رادیو تلویزیون و وزارت اطلاعات و کلتور طلب کمک نمایید. یا باید همیشه شما مصروف بازسازی مقبره ها وجمع اوری سایر باشید. محترم وزیر صاحب انسان های زنده نیز ضرورت به کمک دارند و میشود که یک نظر مسولانه بطرف آنها بیندازید.

با احترام

امید ازرادیوتلویزیون

بقلم پوهاند داکترمحمدحسن کاکړ

موهن لال و افغانها و جنگ اول افغان - انگلیس

چندی پیش برادر ارجمند جناب داکتر سید خلیل الله هاشمیان ترجمه جلد اول اثر موهن لال بنام "زندگي امیر دوست محمدخان" را بمن لطف نمود که حال نظر خود را در باره آن اظهار مینمایم:

درباره ترجمه آن گفتني زیاد ندارم، دلیل آن واضح است. هاشمیان صاحب متخصص زبانشناسي و حاکم برهر دو زبان انگلیسي و دري است. علاوه بران موصوف طی چهارده سال گذشته که مجله آئینه افغانستان را به تنهائي منظماً بخوانندگان پیش کرده است، در فن نویسندگی مهارت خاص کسب نموده است. کسانیکه خواندن و نوشتن را کسب خود ساخته اند میدانند که اثری انشاء نمودن چقدر با صطلاح مغز سر خوردن میخواهد. اینها بنابران از زحمات فرهنگي هاشمیان صاحب قدر میکنند. از صفات نویسندگی هاشمیان صاحب اینست که موصوف موضوعات پیچیده را با چنان صراحت افاده میکند که خواننده مفهوم تام و بانزدیک به تام آنرا به آساني درک کرده از خود مینماید. به این ترتیب هاشمیان صاحب با این نوشتار های خود ذهن وفکر افغانهای خوانای پراگنده در جهان را مشغول و متاثر نموده است پس گفته شده میتواند که موصوف در عالم فرهنگي از جمله افغانهای متنفذ بوده و این نفوذ او گذرا نخواهد بود

صفات نویسندگی هاشمیان صاحب درین ترجمه او مشهور است. زبان ترجمه سلیس، روان، نزدیک بمحاوره و خالی از تعقید و ابهام و بنابران دلچسپ است. چون اثر در اصل بیوگرافی امیردوست محمدخان و در باره تاریخ افغانستان است، و از آنجائیکه تاریخ، بر خلاف سایر دسپلین های اجتماعي، اصطلاحات خاص نمیداشته باشد، این حقیقت هم در روان بودن ترجمه اثر داشته است. به عبارت زیر ترجمه صرف از همین نظر نگاه کنید (صفحه ۱۱۸):

"سردار دوست محمدخان شراب را بسیار خوش داشت و در این راه بسیار مبالغه میکرد. گفته میشد که او در یک شب چندین درجن بوتل را خالي میکرد و تا زمانی بنوشیدن ادامه میداد که کاملا نشه میشد و حتی یک جرعه بیشتر را تحمل نمیتوانست. سردار بسا اوقات در اثر زیاده نوشیدن بي حس میشد و باین ملحوظ روز ها را در بستر میماند چندین بار او را در حال نشه بالای اسپ دیده اند که شطفیات میگفته، دستار نداشته و فقط یک تاقین به سرش بوده است."

اما در باره خود کتاب، یعنی محتویات و مولف آن احتیاط بکار است، برای اینکه اگر فهمیده بتوانیم که کتاب از کدام زاویه نوشته شده، تا چه حد مبتني بر واقعیات و تا چه حد متکی بر شایعات و یا غرض آلود است درینمورد بمحتویات کتاب مراجعه میکنیم.

مولف میگوید (صفحه ۴۸) که این اثر را "... در دو جلد در مدت کوتاهی، بدون کمک دوستان که انتظار آنرا داشته، ام تکمیل و بدست طبع سپردم". وی اضافه میکند که "هنگامیکه در افغانستان بودم (زندگی امیر دوست محمدخان" را بانگلیسي و فارسي تهیه کرده بودم... اما متاسفانه تمام اوراق مذکور بهنگام انتوب و قیام کابل ضبط گردید و بدسترس محمداکبرخان قرار داده شد که او بهیچوجه حاضر نشد آنها را بمن مسترد کند. بعد از ان وقتی در لندن بنگارش مصروف شدم از قدرت من خارج بود یک گزارش قابل اطمینان تهیه کنم که زندگی امیر را به ترتیب مسلسل و کرونولو جیک ترسیم نماید. لذا بیم دارم این دو جلد در بسی موارد اشتباهات داشته وقابل سوال باشند."

"غیر قابل اطمینانی بودن" این اثار از مورخان و منتقدان منون پوشیده مانده نمیتواند. مهمتر اینست که خود مولف بر آن اعتراف میکند اما تمام کتاب غیر قابل اطمینان نیست انچه که خود مولف در باره رخداده های روز شنیده ویا خود مشاهده و تجربه کرده است. شاید واقعی باشد ویا انعکاسی از ان باشدکه واقع شده است. موهن لال در طول مدتیکه در چند اول نزد خان شیرین خان، سر کرده قزلباشان، بود معلومات مهمی بدست آورده است. او در آنجا در موقعی قرار داشت که برای کس دیگر بخصوص خارجی میسر نبود. با انهم هیچکس نمیتواند چنین اثر ضخیم را از حافظه بیرون آردو وثقه هم باشد، بخصوص که موضوع سرگذشت شخصی اونی بلکه از یک کشور غیر باشد.

اطمینانی بودن این اثر از یکزاویه دیگر هم مورد سوال قرار میگیرد که آن عبارت از منابع آن میباشد. منابع این اثر تحریری نیست که دستخوش تغیر ویا مسخ قرار نمیگیرند، مگر آنکه عمدا مسخ گردند، منابع آن شفاهی است. مولف میگوید "پیانات و صحبت هائیکه در این دو جلد گزارش یافته بطور عموم از طرف کسانی بر ایمن بیان شده که در مجالست و مصاحبت امیر قرار داشتند" (صفحه ۴۹). مراد ازین "کسان"، "در باریان و اقارب" امیر میباشند

"ادامه دارد"

In this issue:

1_ Protect heritage of the country
2_ Pacha Khan will surrender or have a privilege
3_ Stone (a novel)
4_ Art and literature page
5_ Poem
6_ Interview with the director of human right commission of Afghanistan
7_ The not-invited guests should be avoided
8_ Received letter
9_ What does Osama want from the Muslims
10_ Al-Qaida Navy endangers the international security

تسلیت

مورچ دخدای ج یو اوخدای ته ورتلوونکی یو

دارادی ورخپلنی چلوونکی خپله ژوره خوا خوښی او همدردی دافغانستان د اونسی جرګی د دیر نسمی دوری وکیل او د دستو خیلو قومی مشر محترم الحاج الله نظر دوستوخیل دلمسی د مرینی نه املمه.

د محترم استاد محمد اصف صمیم د زوی د مرینی نه املمه.

د محترم استاد فدا محمد فیاض دمور بی بی د مرینی نه املمه

د محترم داکتر نصرالله ستانکزی او محترم انجنیر امین الله ستانکزی د مور بی بی د مرینی نه املمه

د ANCB د رئیس محترم سید فضل الله واحدی او داکتر سید شکرالله واحدی دپلار د مرینی نه املمه.

د افغانستان دملی سوداګر محترم انګر د پلار د مرینی نه املمه او د محترم محمد عثمان زیر مل او محترم نعیم زیرمل د مور بی بی د مرینی نه کیله. دوی او د دوی درنو کورنیوته وراندی کوی. د نوی خدای ج نه در باره خدای پښلو ته د جنت فردوس او دهغوی کورنیوته د جمیل صبر غوښتنه کوی.

په درنښت

اراده
د افغان نشراتي مرکز خپرونه
زیر نظر هیئت تحریر نشرمی شود
موسس: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
سکرترمسوول: سید محمد "عادل"
معاون: اسماعیل "تیمور"
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان سرک مجد حاجی میر احمد)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوزودیزاین: محمدجمیل "امیري" چاپ مطبعه مرکزنشرات افغان
ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787
قیمت یک شماره ۲ افغانی